# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د مې ١٤مه | درېيم کال| ۳۷۳يمه ګڼه


## د قطر له مذاکراتو سره همماله؛

### په ختيځ کې د داعش فعاليتونه چټک او پراخ شوي دي



۳

له جوزا وروسته د واک لېږد، د کانديدانو غوښتنه او حللاره

۲ مخ

ايران د خپلو کړنو جزا ويني

۲ مخ

د غزني سمڅې

۳ مخ

## امريکا: د افغان سولې لپاره د چين او روسيې همکاري ګټوره ده

د چينايي رسنيو د راپورونو له مخې، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوه چارواکي ويلي، د افغان سولې په برخه کې د چين او روسيې تېرې همکارۍ د ستايلو دي او د دغو دواړو هېوادونو نور مثبت اقدامات د سولې لپاره مهم او ګټور تماميدلی شي.
د سرچينې په خبره، دغه امريکايي چارواکي له يادو دواړو هېوادونو غوښتي چې د سولې په برخه کې رښتيني ګامونه اوچت کړي او په دې توګه د افغان سولې لپاره سيمه ييزه اجماع پياوړې کړي.
چينايي رسنۍ ويلي، امريکا داسې مهال د افغان سولې لپاره د چين هڅې ستايلې دي، چې په دې وروستيو ورځو کې د سوداګريزې تعرفې پر سر د چين او امريکا اړيکې ترينګلې شوې دي.
د افغان سولې په تړاو د امريکايي چارواکو دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې د قطر په پلازمېنه کې د افغان سولې په تړاو له تېرو څو مياشتو راهيسې د امريکايي او طالب استازو ترمنځ خبرې رواني دي، چې وروستی شپږم پړاو يې تېره اونۍ پای ته ورسېد. د دغه پړاو خبرو له پای ته رسېدو وروسته، دواړو لورو په خبرو کې د پرمختګ اعلان وکړ، خو په دې اړه يې نور جزيات نه دي ورکړي.


## په ټاکنيزو مبارزو کې د دولتي امکاناتو د کارونې په تړاو د نوماندانو انديښنې پر ځای دي



۲ مخ

## خبره

۴ مخ



## صنوبر حسين کاکاجي

کاکاجي د انګريزانو د يرغل په مقابل کې د کلکې مبارزې ترخنګ، د پښتو ادب لپاره هم د پام وړ کار کړی دی. هغه خپله هم کتابونه ليکلي او له نورو ژبو يې هم را ژباړلي دي.

## په هرات کې ۲۰ فابريکې پر کار پيل کوي



د هرات د معادنو او صنايعو خونې رييس حميدالله خادم ويلي، په هرات کې صنعتي شهرک ته د برېښنا چارو تر بشپړولو وروسته به په دغه ولايت کې شل فابريکې پر کار پيل وکړي.
د خادم په خبره، دغه فابريکې به د غذايي او ساختماني توکو او همدا راز د اوسپنې د توليد په برخه کې پر کار پيل وکړي. هغه زياته کړې چې اوسمهال په دغه صنعتي شهرک ۳۰۰ فابريکې کار کوي، چې نږدې ۲۵ زرو کسانو ته يې کاري زمينه برابره کړې ده. د خادم په خبره، د دغو کارګرانو ډېره برخه ښځې دي، چې د نويو فابريکو د توليد په پيل سره به يې شمېره نوره هم لوړه شي.
د دغه ولايت د صنعتي خونې رييس په داسې حال کې د دغو فابريکو لپاره د برېښنا د زياتېدو خبره کوي، چې له ايران او ترکمنستان څخه هرات ١٦٠ ميګاواټه برېښنا راځي.

## هيئت امريکايي، پيرامون آمادگی انتخابات با کميشنران کميسيون بحث نموده‌است



هيئت عالی رتبهٔ امريکا در کابل، با کميشنران کميسيون مستقل انتخابات در مورد آمادگی های انتخابات رياست جمهوری بحث و تبادل نظر نموده‌است.
در خبرنامه ای که از سوی سفارت امريکا در کابل پخش شده، آمده است که در رأس هيئت متذکره، خانم اليس ويلز معاون وزارت امور خارجه امريکا برای آسيايی مرکزی و جنوبی قرار داشت.
منبع علاوه نموده است که کميشنران کميسيون مستقل انتخابات افغانستان، به هيئت امريکايی در مورد آمادگی ها پيرامون انتخابات آينده رياست جمهوری، معلومات همه جانبه ارائه کردند.
در خبرنامه درج است که خانم ويلز، ضمن تأکيد بر انتخابات شفاف و باورمند، پافشاری نمود که روند ثبت نام رای دهندگان بايد زودتر آغاز شود.
نامبرده همچنان علاوه کرده است که جريان استخدام کارمندان کميسيون انتخابات و روند آموزش دهی آنها بايد به اسرع وقت تکميل شود؛ تا انتخابات رياست جمهوری به موقع معين آن راه اندازی شود.
اين در حالی است که قرار است انتخابات رياست جمهوری، در برج ميزان سال روان راه اندازی شود، برای اشتراک در اين انتخابات، ۱۸ نامزد وارد ميدان رقابت می‌شوند.
قابل ياد آوری است که اين هيئت امريکا قبلاً با رهبران حکومت وحدت ملی نيز ديدار و دربارهٔ مسائل کشور، گفت‌وگو کرده است.




## دریځ

### له جوزا وروسته د واک لېږد، د کاندیدانو غوښتنه او حلاره

د ولسمشرۍ ماڼۍ کاندیدانو شورا په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته د ولسمشر کار ناقانونه دی او باید سرپرست حکومت جوړ شي. دوی په اعلامیه کې ویلي چې که ولسمشر خپله له کاندیدۍ تېرېږي، نو کولی شي چې د بل ولسمشر تر ټاکلو پورې سرپرست وټاکل شي.
اعلامیه زیاتوي، که ولسمشر کاندید وي، نو پکار ده چې واک یې ختم شي، خو د سرپرست حکومت لپاره باید یوه لویه سیاسي اجماع جوړه شي، چې پکې د ولسمشرۍ کاندیدان، د راجستر شوو سیاسي ګوندونو استازي او ملي اشخاص وي. هغوی چې غواړي د سرپرست حکومت مشري وکړي، باید له دې اجماع څخه د باور رایه واخلي. ارګ بیا وایي چې د اساسي قانون له مخې، محمد اشرف غني ولسمشر دی او تر هغو به په واک کې وي، چې نوی ولسمشر ټاکل کېږي.
اوس پوښتنه دا ده چې دا غوښتنه څومره قانوني او عملي ده او د جوزا له لومړۍ وروسته باید څه وشي؟
د افغانستان د اساسي قانون له مخې د ولسمشر وخت د جوزا په لومړۍ نېټه له ټاکنو وروسته پوره کېږي. اوس د جوزا لومړۍ راځي، خو ټاکنې نه دي شوې. ارګ وایي، محمد اشرف غني به د ولسمشرۍ تر ټاکلو پورې بیا هم ولسمشر وي او په دې اړه یې له سترې محکمې یوه پرېکړه هم اخیستې ده، خو د ولسمشرۍ کاندیدان او سیاسي مخالفین وایي، چې اساسي قانون وخت ټاکلی دی او د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته د ولسمشر وخت پوره دی. دواړه لوري پر قانون ټینګار کوي، خو له دې مادې دواړه تفسیرونه کېدلی شي. د ارګ خبره به هغه وخت سمه وي، چې کله ټاکنې د موجه دلیل له مخې ځنډول شوې وي، خو اوس چې ټاکنې د سیاسي دلایلو او د حکومت د بې کفایتۍ له امله ځنډېدلې دي، نو پړه بیا هم پر ارګ ده. کاندیدان چې د ولسمشر د استعفا غوښتنه کوي، دا سمه ده، خو بدیل یې قانوني نه دی. د اساسي قانون له مخې کله چې ولسمشر او مرستیالان یې وفات کېږي، یا استعفا کوي، یا هم په لا علاجه ناروغۍ اخته کېږي او یا هم د اساسي قانون پر اساس له دندې ګوښه کېږي، نو سرپرست حکومت جوړېږي او مشر یې بیا د مشرانو جرګې رییس وي. همداسې اساسي قانون بیا دا سلسله غځوي. اوس کاندیدان چې د سیاسي اجماع او د سرپرست حکومت مشر ته له هغوی د رایو اخیستو خبره کوي، نو دا چاره قانوني نه ده. له بله اړخه مشرانو جرګه خپله ناقانونه ده، ځکه د ولسوالیو شوراګانو استازي پکې نشته او د مشرانو جرګې د استازو وخت پوره دی، نو چې جرګه ناقانونه وي، مشر خو یې یو مخ ناقانونه دی. همداسې په اساسي قانون کې د حکومت د سرپرستۍ لپاره وړاندیز شوي نور اشخاص یا نشته او یا هم ناقانونه دي.
نو حلاره څه ده؟
د دې لپاره چې دا ستونزه حل شي، قانوني او منطقي لاره دا ده چې محمد اشرف غني همداسې ولسمشر وي، خو څو اساسي بدلونونه باید راشي. لومړۍ باید حکومت تضمین کړي چې ټاکنې پر ټاکل شوي وخت کېږي. دویم دا چې د ولسمشر صلاحیتونه باید محدود شي. له دې امله چې له واکه ناسمه ګټه وا نه خلي، نو د مقرریو او منفکیو صلاحیت باید ترې واخیستل شي. د بودجې په لګښت کې یې هم باید صلاحیتونه کم شي. تر دې ټولو مهمه دا چې ولسمشر باید د سولې په روانه پروسه کې له خنډ جوړولو څخه را وګرځول شي او په دې شرط یې واک تمدید شي چې د سولې په چاره کې به خنډونه نه جوړوي.

# ایران د خپلو کړنو جزا ویني



لیکوال: نصرت الله حقپال

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د روان ۱۳۹۸ لمریز کال د غویي په ۱۸مه د ایران په فلزي صنایعو ( فولادو، اوسپنې، المونیم او مسو) بانديې، چې د دغه هېواد د بهرني عاید لس سلنه جوړوي، بندیزونه ولګول. دا په داسې حال کې ده چې د ټرمپ په مشرۍ د امریکا دولت د تېر ۱۳۹۷لمریز کال پر همدې نېټه له ایران سره د نړۍ د سترو ځواکونو (امریکا، روسیې، چین، بریټانیې، فرانسې او جرمنې) له اټومي هوکړې لیک څخه ووتو چې د ۲۰۱۵ز کال د جولای په ۱۴مه له دغه هېواد سره لاسلیک شوی و. له وتلو سره سم امریکا پر ایران د نفتو په شمول، سخت بندیزونه ولګول چې په ترڅ کې ایران له سخت مالي او اقتصادي ناورین سره لاس او ګرېوان کړ.
د امریکا حکومت له ایران سره د نړۍ د شپږو سترو قدرتونو له اټومي هوکړې (JCPOA) په وتو سره پاتې نور غړي دغه توافق ته ژمن پاتې شول، خو ویې نه شوای کړی چې د امریکا د بندیزونو له ملا ماتوونکي اغېز څخه ایرانی لوری خوندي وساتي. د ایران ولسمشر حسن روحاني د یاد تړون له نورو غړو (انګلستان، فرانسې، جرمنې، چین او روسیې) څخه د روان کال د غویي په ۱۸مه وغوښتل چې تړون ته ژمن شي او د ایران زیانونو ته دې د ٦۰ ورځو په درشل کې بدیل وومومي، کنه ایران به د تړون د ځینې مادو له اجرا څخه لاس واخلي او د یورانیمو غني کولو ته به بیا مخه کړي.
امریکا ولې له ایران سره اټومي تړون لاسلیک کړ؟
منځنی ختیځ، هغه سیمه ده چې امریکا ته تر بل هرځای ډېر ستراتېژیک او حیاتي ارزښت لري او امریکا ته له څو اړخونو (اېډیالوژیک او فکري، مالي او اقتصادي اړخه او همدارنګه د نظامي اړخه ډېر مهم نړیوال موقعیت) د ګواښ او مرستې جوګه ده. خو امریکا څه ډول دغه سیمه اداره کوي او په خپله ولکه کې یې ساتي؟
د منځني ختیځ اداره کول څه اسانه کار نه دی، ځکه چې د نړۍ ټول ستر قدرتونه غواړي په دغه سیمه کې د پښې ځای ولري او هلته خپل حضور او نفوذ ثابت وساتي. په ورته مهال، دغه سیمه د اسلامي تمدن او فرهنګ زانګو ده چې له اتمې میلادي پېړۍ نه بیا تر ۲۰ مې پورې د اروپا، افریقا او آسیا په ډېرو سیمو یې حکومت کاوه. امریکا دغه د سرو زرو ټوټه (منځنی ختیځ) په مستقیم او غیر مستقیم ډول اداره کوي.
په مستقیم ډول یې په خپل سیاسي، اقتصادي او نظامي شتون سره اداره کوي، خو په غیر مستقیم ډول د سیمه ییزو ځواکمنو لوبغاړو(اسرائیل، سعودي عرب، ایران او ترکیې) څخه په اغېزمنه توګه کار اخلي.
امریکا له یوې خوا له یهودي دولت څخه د خپل یو رسمي استازي په توګه کار اخلي او د منځني ختیځ عرب او غیر عرب (ایران، ترکیې او...) هېوادونه پرې وېروي. دې ته ورته، د سعودي او ایران ترمنځ دښمني او سیالي په دوامداره توګه توده ساتي، څو د سیمې موازنه د خپلو لویو او اوږدمهاله موخو د ترلاسه کولو لپاره پرې برابره وساتي. له ترکیې څخه د سوریې، عراق، فلسطین او د سیمې د نورو هېوادونو په چارو کې ترې ستره استفاده کوي. په دې توګه یې د سیمه ییزو لوبغاړو یو مربع جوړه کړې چې د سیمې توازن پرې وساتي او هر یو په خپل وخت او ځای کې کاروي. امریکا ته د دغه سیاست ګټه دا ده چې د سیمې قدرتونه یو پر بل کنټرولوي او نه پرېږدي چې د سیمې نظم چې د امریکا پر مټ جوړ شوی او د امریکا ګټې تضمینوي، له منځه لاړ شي.
وخت او شرایطو ته په کتو، کله یوه لوبغاړي ته د نورو په نسبت ترجیح ورکوي او د ځانګړو موخو د تحقق لپاره یې نازوي او په سیمه کې ډېر نقش ورکوي، خو کله چې هدف ترلاسه او ماموریت تمام شي، نو بیا یو څه تنزیل ورکوي او په مختلفو لارو چارو یې موقف په سیمه کې راټیټوي. د بېلګې په توګه، امریکا په ۲۰۰۱ز کال پر افغانستان او په ۲۰۰۳ز کال پر عراق نظامي برید وکړ. په دغه وخت کې د ایران مرستې ته سخته اړ وه، ځکه چې ایراني-آخندي دولت په دواړو هېوادونو کې خپل جاسوسان او ډلې لرلې چې د امریکا نظامي برید په بریالي کولو کې یې ډېره مرسته کولی شوی. نو په افغانستان، عراق او په ۲۰۱۲ز کال په سوریه کې اړتیا وه چې ایران د امریکا ګټو او اهدافو ته ستر خدمت وکړي، نو امریکا ایران ته د رشد او لوی نقش په ورکولو سره په دغه هېواد بندیزونه نرم او بالاخره یې په ۲۰۱۵ ز کال کې اټومي هوکړه لیک ور سره لاسلیک کړ، څو د دې جوګه شي چې په یادو هېوادونو کې د امریکا ستراتېژیو ته کار وکړي چې ایران هم په خپل وار سره دغه ماموریت بشپړ کړ.
په عراق او سوریه کې د جنرال قاسم سلیماني پر مشرۍ د سپاه پاسدارن «سپاه قدس» ډلې له امریکایي نظامیانو سره په یوه صف کې د داعش او نورو اسلامي - جهادي ډلو پر ضد جګړه کوله. د دوو دښمنو دولتونو «ایران-امریکا» ترمنځ دومره نږدې همغږي وه چې کله به ایراني پوځیانو په عراق کې عملیات کول، امریکایي هوایي پوځ به یې هوایي ملاتړ کاوه. په سوریه کې امریکا او د ایران آخندي رژیم واحد دوست «د بشار په مشرۍ د سوریې رژیم» او واحد دښمن «د بشار پر ضد جنګي ډلې» درلوده چې دواړو ورته ګډ کار کاوه.
په افغانستان، عراق او بالاخره په سوریه کې اړتیا وه چې ایران د امریکا خدمت وکړي او په یادو دریو هېوادونو کې ولسونه د امریکا لپاره ووژني، خو کله چې په یادو درې واړو هېوادونو کې د امریکا اهداف ترلاسه او نور ایران ته اړتیا نه وه، بیا یې د لوبې او لوبغاړو په بدلولو پیل وکړ چې طبعاً ایران نور د لوبې برخه نه و او باید نقش یې په ژوره توګه را ټیټ شوی وای.
امریکا ولې له اټومي هوکړې ووته او ولې په ایران بندیزونه لګوي؟
امریکا ځکه له اټومي هوکړې ووتله چې له یوې خوا اروپایي شرکتونو له ایران سره ستر سوداګریز قراردادونه لاسلیک او په دې توګه یې ډېرې پیسې ترلاسه کړې، خو د دې برعکس، امریکا چې د دغه تړون اصلي لوری و، شرکتونه یې ونه توانېدل چې له ایران سره لوی سوداګریز تړونونو لاسلیک او ډېرې پیسې وګټي. له بلې خوا امریکا نور د ایران مرستې ته اړتیا نه لرله او د ایران ماموریت تمام شوی و. افغانستان د امریکا لاس ته ولوېد، په عراق کې حالات د امریکا په ګټه روان وو او حضور یې دایمي شو، د سوریې انقلاب تقریباً د امریکا په نفع تر کنټرول لاندې راغی او د اسلامي ډلو پروژه د ایران په هر اړخیزه مرسته له ناکامۍ سره مخ شوه.
په دې توګه ایران په سیمه کې ډېره وده وکړه او په دې فکر کې شو چې نور نو د امریکا له ولکې وتلی او امریکا نه شي کولی چې را ووکی یې کړي او په خپل پخواني ځای یې کښېنوي. اوس د امریکا له انده د دې وخت دی چې ځواک د مربع په نورو لوریو یو څه وده وکړي او د سیمې موازنه بېرته عادي حالت ته را وګرځوي.
امریکا به پر ایران نظامي برید وکړي؟
د امریکا دولت په دې وروستیو څو اونیو کې خپلې دوې د الوتکو وړونکې لویې کښتۍ، B-52 ډوله بم غورځونکې الوتکې او د پټرویټ توغندیوپرمختللی دفاعي سیستم د فارس خلیج (د قطر العدید نظامي اډې) ته استولي او داسې ګومان کېږي چې امریکا پر ایران د نظامي برید هوډ لري. خو تېرو تجربو او د سیمې سیاسي واقعیتونو ته په کتو سره، دا ډېره لرې برېښي چې دواړه هېوادونه دې د نظامي برید تر کچې مخته ولاړ شي. ځکه چې ایران د امریکا لپاره یو ریښتینی تهدید نه، بلکې د اړتیا په وخت کې یو ښه ستراتېژیک ملګری/همکار دی. د امریکا له لوري پر ایران وروستي ټول فشارونه (سیاسي، اقتصادي او نظامي مانورونه) د روحي او رواني جګړې په معنا دي او غواړي چې د نرمې جګړې له لارې ایرانی آخُندي رژیم محدود او امریکایي چوکاټ کې یې برابر ځای پر ځای کړي.
خو یو څه چې ډېر د پام وړ دي، هغه دا دي چې امریکا تل د سیمې د یوه دولت/ملت د ځپلو او تضعیف لپاره د منځني ختیځ له نورو هېوادونو کار اخیستی او د یوې خاورې، اډې، هوا، اوبو، مالي سرچینو او حتی نظامي ځواک یې د هغه بل پر ضد او د ځان په ګټه کارولي دي. تر ټولو ښه بېلګه یې خپله د ایران آخُندي رژیم دی چې په افغانستان، عراق او سوریه کې یې د امریکا لپاره پورته یاد موارد ټول وکارول او د یاد هېواد په خدمت کې یې ورکړي وو. اوس ایران له هغه برخلیک سره مخ دی چې په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۳ز کلونو کې افغانستان او عراق ورسره مخ وو. هغه وخت ایران د سیمې د نورو هېوادونو پر ضد د امریکا لاسنیوی وکړ. اوس نور اسلامي هېوادونه(قطر، سعودي، عربي متحد امارات، بحرین...) د د ایران پر ضد د امریکا لاسنیوی کوي او خپل ټول شته یې ورته په خدمت کې ورکړي دي.
که په منځني ختیځ کې پراته اسلامي دولتونه، چې اوسېدونکي یې مسلمانان دي، د امریکا دغه ویجاړوونکی سیاست درک نه کړي او د امریکا دولت ته خپل ټول امکانات (خاوره، اډې، هوا، اوبه او...) د سیمې د بل دولت پر ضد د کارولو لپاره ور نه کړي، له یوه لوري به امریکا په دومره آسانۍ سره د سیمې هېوادونه ځپلی نه شي او له بل لوري به د یو ګډ دښمن پر ضد ځواکمن اتحاد رامنځته شي چې د ټولو دولتونو/هېوادونو په ګټه دی. ځکه چې امریکا په قصدي توګه منځنی ختیځ بې ثباته او دولتونه یې کمزوري کوي، څو خپل د چور او تالان سیاست په آسانۍ سره پلی کړي.

## اجرایه رییس: په ټاکنیزو مبارزو کې د دولتي امکاناتو د کارونې په تړاو د نوماندانو اندېښنې پر ځای دي



اجرایه رییس عبدالله عبدالله په ټاکنیزو مبارزو کې له دولتي امکاناتو څخه د استفادې په تړاو د اندېښنې څرګندولو تر څنګ ویلي، چې د طالبانو له لوري د جګړې پر دوام ټینګار د دې لامل شوی، څو په افغانستان کې د سولې ټینګښت په برخه کې بنسټیز ګامونه پورته نه شي.
نوموړي تېره ورځ د وزیرانو شورا په غونډه کې د دغه مطلب څرګندولو تر څنګ ویلي: «افغان ولس په تمه و چې د روژې میاشت کې اوربند وشي؛ خو له بده مرغه تر اوسه طالبان نه دي سلا شوي او جګړه دوام لري».
نوموړي زیاته کړې چې د هېواد امنیتي او دفاعي ځواکونه له هېوادوالو د دفاع په برخه کې پر ټولو ستونزو سربېره، خپل مشخص او ملي مسوولیت ترسره کوي چې د ستاینې وړ دي؛ خو بیا هم د کونټرپارټ پر موسسې په څېر بریدونه ان د هېواد په پلازمېنه کابل کې ترسره کېږي.
عبدالله ویلي چې لا هم نوماندان د ولسمشریزو ټاکنو روښتیا او په ټاکنیزو مبارزو کې له دولتي امکاناتو څخه د استفادې په تړاو اندېښمن دي.
د هغه په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري د بایومټریک سیسټم کارولو طرحه کولی شي، چې د ټاکنو روښتیا په تړاو تر یو بریده اندېښنه له منځه یوسي.
نوموړي زیاته کړې چې په ټاکنیزو مبارزو کې له دولتي امکاناتو څخه د ګټې اخیستنې په تړاو، د نوماندانو اندېښنې پر ځای دي او نوموړی د دغه هېواد د یو اوسېدونکي او حکومت د اجرایه مشر په توګه چمتو دی، چې په دې برخه کې د نوماندانو هر راز طرحه ومني.
عبدالله زیاته کړې: «له ټاکنو کمېسیون څخه تمه لرو، چې پاتې مودې ته په پام سره په ښېړه خپل کاري پروګرامونه وړاندې کړي او ټول دولتي په ځانګړې توګه امنیتي او دفاعي ځواکونه دنده لري، چې له ټاکنو بهیر د ملاتړ په برخه کې د خپلو ورسپارل شوو کارونو او مسوولیتونو په چوکاټ کې خپله ټوله انرژي او سرچینې د بریالیو ټاکنو ترسره کولو کې ولګوي».

# د غزني سمڅې



لیکنه: صفیه حلیم

د ۲۱مې میلادي پېړۍ په سر کې کله چې د نړۍ لرغون پوهانو، د بامیانو ماتې مجسمې او نور تاریخي اثار پلټل، د ایټالوي پوهانو یوې ډلې د غزني په سمڅو څېړنې کولې.
دوی لومړی «نی کلا» ته ورغلل. د عربانو د حملو په وخت کې دغه غار او کلا د زابلستان د واکمنو پناه ځای و. وروسته بیا په نهمه میلادي پېړۍ کې له یعقوب بن لیث څخه په تېښته شاهي ټبر په نی کلا کې مېشت و. وروسته دوی ونیول شول او ځینو یې اسلام ومانه. د نی کلا او ورڅېرمه غارونه د شهزادګانو د خوندي ساتلو ځایونه وو. کله چې حاکمان د جنګ لپاره میدان ته وتل، نو شاهي خزانه او زامن به یې دلته ساتلي وو.
وروسته دغه ځای غزنویانو د شاهي زندان په توګه کاراوه. د سلطان مسعود، درباري شاعر سعد سلیمان او پخپله د سلطان مسعود زوی هم دلته بندي و. دلته یو زیارت د تالا بیګم په نوم له غزني څخه «ناور دښتې» ته په لاره ښکاري.
د ایټالوي لرغون پوهانو د ډلې مشر «جیواني ویرادري» لیکي، چې د ځمکې طبعي پېښنو دغو سمڅو ته د تلو لارې هم اړولې دي. د افغانستان د نورو سیمو په شان د غزني په غرونو کې د زلزلو او د واورو د توپانونو له کبله تیرې چودېدلې دي او په ځینو ځایو کې یو لوی درز (چود) غر په دوو برخو وېشلی دی.
د غزني غارونه چې له ۳-٦مې میلادي پېړۍ، بودایي راهبانو توږلي، مستطیل شکل او دننه د مربع خوني ګنبدي چت لري. دغسې جوړښت د بامیانو په سمڅو کې هم لیدل کېږي. د پلټنو لپاره دغو پوهانو هرې سمڅې ته یو نمبر ورکړ.
لومړۍ سمڅه په صنوبر تپه کې او دویمه په سنګدره کې ده. په غار کې دننه دېوالونه داسې توږل شوي، چې تر چت یې د «پرې» یا وزر بڼه اخیستې ده. دا د ساساني جوړښت اغېز ښیي. هغه سمڅه چې په غره پورې یې ډېره نه ده لګولې، دننه لوري دېوالونه یې تر چت د وزرو په شکل راوتلي وي. ځکه خو یې د غار د چت لړه برخه ناتوږلې پاتې ده.
د دویمې سمڅې بهرنی جوړښت ټول خوندي و، خو په نورو غارونو کې د لوګي د توروالي تر شا، سور رنګ ښکارېدو. په دویمه نومره غار کې د یو اس نقش دی، چې په غاړه کې یې امیل او په تندي د وېښتو څټوکې لري. د یوناني هنر دغسې یوه بېلګه په بیروت کې هم شته. د ځینو غارونو دیوالونه درې ځلې پلستر شوې وو، چې بوس او خټه پکې ګډ وو. دا ښیي چې بودایي راهبانو دغه سمڅې ښې ساتلې. د دیوالونو هغه پلستر چې د ګوټ بنی یا رپ یې جوړاوه، د ګندهارا د لومړي دورې (۲ میلادي) نښه وه. په تپه صنوبر سمڅو کې خلک تر ۱۹۷٦ ز کال پورې اوسېدل او په معبدونو کې یې پروړ او بوس ساتل، چې ښایي د ګودام په توګه یې کاراوه.
په سمڅو کې د بودایي عبادت ځایونو لویه جوپه په قره باغ کې ده، چې له لرې نه په یو اړخ ښکاري. «شاه کوه» رود د «جیلګې» سیند ځانګه ده او د دغه رود یوه دره «زرد الو» تنګي نومېږي. جیواني لیکي: «دلته په اتم نومره غار کې څوکه دار محرابونه لیدل کېږي، چې د بودایي دین د «چېتیا» جوړښت نښې دي».
نهم نومره غار ځانګړی دی چې د یوازې پاتې کېدو لپاره و او یا د امن ځای و. دغه ځای لوی دی او د دې بېلګه نه په دکن، نه په چین او نه هم په بامیانو کې لیدل کېږي.
له زرد الو درې تر تېرېدو وروسته، دوی شمال لوېدیځ کې کله چې «تمکي ناوې» ته ورغلل، نو د تیرو یو جوړښت یې ولید، چې د سختو بادونو له کبله یې مخه رېژېدلې وه. دا د «کوه هومې کلا» نومېږي چې له ځمکې ۲۸۱۷ متره لوړه وه. دلته په ځینو غارونو کې د راهبانو د مراقبې لپاره له دیوال سره سره، شاوخوا د ناستې ځایونه وو او د ورختلو لپاره څلور پونۍ جوړې وې.
د شاه خواجه سیمه درې تپې لري، چې جاغوري ته د تلونکي سړک پر ښي لاس له «لومان بازار» سره دي.
له دې تر ټولو لوړه تپه، د تیرو جوړښتونه او څو غارونه لري، چې زیات یې له خاورو ډک شوي دي. د تپې په سر کې د خښتو دېوالونه دانښیي، چې دا د تېرېدو لارې (کوځې) وې. دغه دیوالونه په ببخ کې له پخسې (خټې) او د پاسه بیا دوه برخې په کچه (خامو) خښتو جوړ شوي دي. دلته د مجسمې او ډیوې اېښودلو لپاره طاقچې هم دي. دغه سیستم د سردار تپه په ۵۳ نومره غار او د ګلدرې په خانقاه کې لیدل کېږي او ثبت دي. تر ټولو لوی غار ښکته د نورو جوړښتونو په منځ کې دی او تر چت له خاورو او ګټو ډک و. څه چې مو لیدلی شوی، هغه په دیوال کې په یو قطار کې ورې طاقچې او په منځ کې یې هغه بنۍ ده، چې یو وخت د مجسمې د ودرولو لپاره کارېده. کېدای شي د دغو طاقچو تر قطار لاندې دغسې بل قطار هم وي، چې اوس په خاورو پټ دي. د دې خبرې امکان شته چې دا به دې بودا د ۱۰۰۰ مجسمو هغه غار وي، چې یو وخت یې ډېر رواج و. د چین د «وای» سلطنت له خوا په سمڅو کې د زرګونو بودایي مجسمو ساتل، په نورو ځایونو کې د دین یو مهم سمبول ګرځېدلی و. په افغانستان کې بل داسې کوم ځای یا هم داسې غار یا وهارا تر اوسه نه ده موندل شوې، چې د دغه غار په شان پکې د بودا بې شمېره ورې مجسمې په ساده طاقچو کې اېښودل شوې وي. خو د هګۍ په شکل، رنګ شوي ځایونه شته چې پکې له ګچو جوړې مجسمې لګول شوې دي. یوه بېلګه یې په بامیانو کې د ١٦٤م نومره غار چت دی.
غار «سخي نوک» د غارونو یوه وړه جوپه د ګوارګین سیند په کیڼ لاس کې لیدل کېږي. دغه ځای «باریک» ته نږدې او د سیند پر بله غاړه له «سخي نوک» څخه پنځه کیلومتره لرې دی. د سپین غره شمال ته نږدې د دریو غارونو دغه جوپه د بودایي خانقاوو له دورې څخه وروسته اباده شوه، چې د بودایانو له وتلو وروسته هم پکې انسانانو ژوند کړی دی.
یوه بله لرغونې سیمه «کوه ایل» نومېږي. له تیرې جوړ شوی دغه تخت د «ناوه قلندري» د بیدیس له کلي څخه بر لوېدیځ لوري ته په غر کې جوړ شوی دی.
«غار شاه» د «قل ایلیاد» په کلي کې د اووه سمڅې او د دریو پوړونو په درلودو سره جوړ شوی دی. له تپه حصار څخه ورته د پښو لاره غځېدلې او د بایک د غره لمنه ترې راتاو ده. هلته د رسېدو لپاره له قل شاه مردان څخه تېرېږي. تپه حصار او بالا خانه کې د بایک او لالا خیل غارونه د دریا الواده څنګ کې دي. دغه ځای کوتل ریګ ګردن ته نږدې دی.
د زیتون تپه هم د لویو خانقاوو لپاره مشهوره ده او د دې په سمڅو کې د یو بل د پاسه دالانونه جوړ دي. دغه ځای د «باسول او فولادي» سمڅو ته ورته دی. د دې ځانګړتیا دا ده چې په لوی لاس پلان شوي دي. بله دا چې ټول غارونه نیمګړي پاتې دي یانې جوړوونکي یا خو د افت له کبله وتښتېدل او یا پرې بل باچا راغلو او دغه ځای یې خوشې پرېښودو. د تاریخ ثبتولو او نېټې د معلوملو لپاره دا یوه مهمه نښه ده.
له څو وړو کوټو پرته چې په څلورم پوړ کې دي او فکر کېږي چې د بودایي راهبانو د اوسېدو لپاره وو، نور ټول د عبادت ځایونو نښې لري. په دې کې ځینې دومره لوی دي چې نه یوازې په افغانستان کې، بلکې په ټوله مرکزي اسیا کې ساری نه لري.
په غزني کې د هغو دوو ستوپو یادونه هم پکار ده، چې یوه تپه یې سردار ته نږدې په «کوه پهلوان» کې ده. بله ستوپه جغتو ته د تلونکو قافلو پر لاره ډېره پخوا ویجاړه شوې ده.
د غزني په غارونو کې د تیرې له زمانې راهیسې انسانانو ژوند کړی دی او پکار ده چې منظمې پلټنې ورباندې وشي.

# د قطر له مذاکراتو سره همهاله؛

## په ختیځ کې د داعش فعالیتونه چټک او پراخ شوي دي



په افغانستان کې د داعش ډلې د فعالیتونو ډېرېدو اندېښنې را ولاړې کړې دي. سره له دې چې امریکا له طالبانو سره په قطر کې د سولې خبرې مهم پړاو ته رسولې دي، خو د هېواد په ختیځ، شمال او ځینو نورو ولایتونو کې د داعش ډلې حضور او فعالیتونه د اندېښنې وړ دي. په دې وروستیو کې ډېرو نړیوالو او سیمه ییزو رسنیو راپورونه خپاره کړي، چې د داعش حضور د هېواد په ختیځ په تېره په کونړ او ننګرهار کې پراخ شوی دی او عملي جګړې یې پیل کړې دي.
راپورونه وایي چې امریکا له طالبانو سره په قطر کې خبرې کوي، خو په شمال ختیځو ولایتونو، جنوب او شمال کې د داعش ډلې جلب او جذب زور اخیستی دی. بل پلو وسله وال طالبان هم د دغه ډلې له فعالیتونو او راپورته کېدو اندېښنه لري او ویل کېږي چې د سولې په برخه کې یو خنډ هم د دغه ډلې حضور دی. وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینې وایي، طالبان دا وېره لري چې ښایي د دوی له سولې وروسته، داعش ډله تر دیني شعار لاندې فعالیتونو او جګړې ته ادامه ورکړي او په دې توګه به په هېواد کې د جګړې یو بل پړاو پیل کړي. وسله والو طالبانو ته نږدې کسان بیا پر دې باور دي، چې امریکا غواړي طالبان په یوه سړه جګړه کې ښکېل وساتي. د دوی په خبره، له طالبانو سره اوسنی رامنځ ته شوی وضعیت چې نه سوله ده او نه جګړه، پخپله داعش ته د فعالیت زمینه برابرول دي.
پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا ویلي، امریکا هڅه کوي چې طالبان په سړه جګړه کې ښکېل وساتي او په دې توګه د داعش په فعالیدو سره خپل حضور ته زمینه برابره کړي.
سیداکبر اغا ویلي: ((اوس نه سوله کېږي نه جګړه ده، دا مسئله طالبان په یوه سړه جګړه کې ښکېلوي، چې د افغانستان په ګټه نه ده. دا به داعش ډلې ته د فعالیت زمینه برابره کړي او دغه ډله به پیاوړې کړي)).
په ختیځ کې ځایي اوسېدونکي او سیمه ییزې رسنۍ وایي، چې د کونړ ولایت ډېره برخه داعش ډلې نیولې ده او هره ورځ د کسانو په جلب او جذب لګیا دي. د دوی په خبره، دغه ډله په ښار کې غلچکي بریدونه کوي، دیني علما په نښه کوي او په دې هڅه کې ده چې د خپل فعالیت لمن پراخه کړي.
تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي وو، چې ښایي له طالبانو سره تر سولې وروسته افغانستان کې جګړه ختمه نه شي. د نوموړي دغه خبرې هم د افغان سیاستوالو ترمنځ ډول ډول غبرګونونه پارولي وو. وسله وال طالبان هم له دې اړخه وېره لري، چې ښایي تر سولې وروسته داعش ډلې ته د فعالیت زمینه برابره شي او د وسله والو طالبانو ځای دغه ډله ونیسي. قطر دفتر ته نږدې سرچینې وایي چې د زلمي خلیلزاد او طالبانو ترمنځ په وروستي پړاو خبرو کې د بحث مهم ټکی د داعش ختمول او له دغه ډلې سره د مبارزې پر څرنګوالي خبرې وې. طالبان ټینګار کوي چې تر سولې مخکې یا هم په دې لړ کې دې دغه ډله وځپل شي او د فعالیت اجازه دې نه ورکول کېږي.
بل پلو ځینې بهرنۍ رسنۍ راپور ورکوي چې په عراق او سوریه کې د داعش تر ماتې وروسته، دې ډلې افغانستان، افریقا او ځینو نورو سیمو ته مخه کړې ده. تازه برېټانوي سن ورځپاڼې ویلي چې ښایي د داعش یا اسلامي دولت نومې ډلې مشر ابوبکر البغدادي د افغانستان په کوم ختیځ ولایت کې پټ شوی وي. د ورځپاڼې په خبره، د داعش ډلې د مشر نوې ویډیو ښیي چې هغه افغانستان ته رسېدلی دی او هلته په کوم ختیځ ولایت کې پټ شوی دی. په ورته وخت کې افغان حکومت بیا وایي چې دوی د داعش ډلې پر وړاندې مبارزه کوي او دې ډلې ته به اجازه ور نه کړي، چې خپل فعالیتونه پراخ کړي. د روسیې په ګډون، د منځنۍ اسیا ځینې هېوادونه هم په افغانستان کې د داعش ډلې د فعالیتونو په اړه اندېښمن دي.

# ګوترېش:

## له اقلیمي بدلون سره د مقابلې هڅې په کمزورۍ کېدو دي

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش ویلي، له اقلیمي بدلون سره د مقابلې لپاره نړیوالې هڅې په کمزورۍ کېدو دي.
نوموړي نیوزیلنډ ته له رسېدو سره سم ویلي، د نړۍ هېوادونه د پاریس په هوکړه کې له خپلو ژمنو سره سم هغه اقدامات نه عملي کوي، چې په نتیجه کې یې د ځمکې په تودوخه کې له صنعتي دورې د مخکې وخت په شان، د سانتي ګراد دوې درجې کموالی راځي.
ګوترېش چې د نیوزیلنډ په اوکلاند ښار کې یې د دغه هېواد له لومړۍ وزیرې جسیندا اردیرن سره تر کتنې وروسته خبرې کولې، ویلي چې داسې ښکاري چې له اقلیمي بدلون سره د مقابلې لپاره هڅې په کمزورۍ کېدو دي.
هغه ویلي، نړۍ هغو اهدافو ته د رسېدو پر لاره نه ده سمه شوې، چې د پاریس په هوکړه کې تعریف شوي دي.
د نوموړي په خبره، تناقض په دې کې دی چې د ځمکې د اقلیم وضعیت ورځ په ورځ خرابېږي، خو ښکاري چې د دغه وضعیت د مخنیوي لپاره سیاسي لېوالتیا په کمزورۍ کېدو ده.
د ملګرو ملتونو سرمنشي دغه راز په پام کې لري، چې په کرایست چرچ ښار کې د مسلمانانو د ټولنو له مشرانو سره په کتنه کې، د مارچ په ۱۵مه نېټه پر دوو جوماتونو د وسله وال برید د پېښې په خاطر، چې ۵۱ لمونځ کوونکي پکې ووژل شول، له هغوی سره خواخوږي څرګنده کړي.
ګوترېش ویلي چې دی هر کال د روژې په میاشت کې یو اسلامي هېواد ته سفر کوي، خو سږ کال یې غوره وګڼله چې د نیوزیلنډ له مسلمانانو سره وګوري، څو له دې پېښې وروسته د هغوی د جرئت او زغم ستاینه وکړي.
د ملګرو ملتونو سرمنشي د نړۍ د هېوادونو پر مشرانو او د ټکنالوژۍ پر کمپنیو غږ کړی، چې پر ټولنیزو شبکو د تشدد د انلاین ښودلو د مخنیوي له هڅو سره مرسته وکړي.
د یادونې ده چې د کرایسټ چرچ ښار پر دوو جوماتونو بریدکوونکي، د خپلې حملې جریان په مستقیم ډول پر فېسبوک خپور کړی و.
تمه ده چې د نیوزیلنډ لومړۍ وزیره اردیرن په روانه اونۍ کې پاریس ته د سفر په ترځ کې په هغه غونډه کې ګډون وکړي، چې د دغه ډول پېښو د انلاین کولو د مخنیوي په اړه د بحث لپاره جوړېږي او کوربانه به یې اردیرن او د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون وي.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد


### لسم څپرکی
**عمل مو عادت کړئ**




دا یې هم پکې روښانه کړې وه چې ملگري یې باید څنگه خلک وي. مېرمن یې باید څه کار وکړي، چېرته ژوند وکړي او عاید یې څنگه مصرف شي. د همدې سند د پای په نیمه پاڼه کې جین هغه عادتونه لیست کړي وو چې نجلۍ یې باید پرېږدي یا یې خپل کړي. په دې عادتونو کې څښاک، سگرټ څکول، سینگار او نور شیان راغلي وو.
ښځې چې دا لیست ولید، هغه کار چې دې وکړ، ښاي تاسې هم دا کار کړی وی. له سند سره یې دا یاداښت ضمیمه کړ او بېرته یې ور ولېږه:
(یو متل دی چې واده روغه هندوانه ده، دا متل اوس هم ډېر خلک مني او زه یې هم منم، نو زما او ستا کیسه همدلته ختمه شوه.)
جین چې راته دا کیسه کوله، په نهیلۍ یې وویل:
(نو داسې ترون لیکل څه ستونزه لري؟ په دې خو ته هم پوهېږې چې واده مهمه پرېکړه ده او د خطر احتمال پکې وي.)
خو که رښتیا ووایو جین ښه نه کول. انسان پر واده سربېره د هر دنیایي کار لپاره پلان جوړونه کې دقت کولای شي او باید یې وکړي، لوړ معیارونه ورته ټاکلی شي، خو له واده سره د جین چلند داسې و لکه کار، سپما، ناسته پاسته، کاروبار او نور ... .
د بریالي انسان هنر دا نه دی چې د هر ډول ستونزې احتمال ختم کړي، بلکې هنر دا دی چې له ستونزې سره مخ شي او حل یې کړي. سم وخت ته له انتظاره دا ښه ده چې موږ خپل معیارونه لږ راټیټ کړو. نن هم توکل ډېرو خلکو ته د عمل ښه طریقه ده.
دویمه قضیه: جیم ولې نوي کور کې اوسېږي
په هره لویه پرېکړه کې ذهن همدا وایي چې وکړم که نه؟ پیل یې کړم که نه؟ په دې کیسه کې به وگورئ چې یوه ځوان څنگه اقدام وکړ او څه پایلې یې ترلاسه کړې.
جیم هم د نورو ملیونونو ځوانانو په څېر دی، عمر یې له شلو کالو پورته دی، ښځه او بچي لري، خو مناسب عاید نه لري.
جیم او مېرمن یې په یوه واړه اپارتمان کې اوسېږي. دواړو خپل کور غوښت. دواړو غوښتل چې له ډېرې فضا، پاک چاپېریال، د ماشومانو د لوبو ځای اسانتیاوې او خپل کور ولري.
خو په کور اخیستو کې یې لوی خنډ دا و چې پیسې یې باید مخکې ورکړې وی. یوه ورځ جیم د کور کرایه ورکوله او دا کار پرې ډېر بد ولگېده. ده چې د میاشتې څومره کرایه ورکوله دا د یوه نوي کور قسط و.
جیم خپلې مېرمنې ته غږ کړ، ورته وویل: (دا بله اونۍ کور واخلو؟)
مېرمنې یې ورته وویل: (څه؟ هسې ټوکې راسره مه کوه، ښه پوهېږې چې موږ یې د بیعانې پیسې هم نه لرو.)
خو جیم پرېکړه کړې وه، ویې ویل:
(زموږ په شان سلگونه زره خلک په دې ارمان دي چې یوه ورځ به خپل کور لري، خو نیم پکې ایله کور واخلي. هر وخت یوه ستونزه پیدا کېږي او د دوی مخه نیسي. خو موږ کور اخلو. که څه هم نه پوهېږم چې پیسې به ورته له کومه کوم، خو دا کار حتمن کوم.)
په هر صورت، بله اونۍ یې خپل د خوښې کور پیدا کړ. کور کوچنی، ساده، خو ښکلی و او دولس سوه ډالر یې مخکې غوښتل. اوس یوازینۍ ستونزه پیسې پیدا کول وو، جین نه پوهېده چې دا پیسې پور نه شي اخیستي، ځکه د گروۍ لپاره یې هېڅ هم نه لرل.
خو وایي چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي ... . جیم وویل راځه د کور خاوند سره به د (۱۲۰۰) ډالرو پور یو ترون وکړم. سړي سره یې خبره شریکه کړه. سړي لومړیو کې نه منله، خو د جیم په ډېر ټینگار دې ته راضي شو چې د میاشتې به سل ډالر ورکوي.
اوس یې نو باید په میاشت کې سل ډالر پیدا کړي وی. جیم او مېرمن یې قلم او کاغذ را واخیست او دا حساب یې پیل کړ چې د میاشت سل ډالر له خپلو لښگتونو څنگه کمولای شي، خو د دې ترڅنگ به یې د پنځه اویا ډالرو قسط غم هم خوړلای.
بیا ورسره یو بل فکر پیدا شو، جین سهار وختي د خپل رئیس دفتر ته ورغی او خپله موضوع یې ورسره شریکه کړه. رئیس چې د جیم د کور اخیستو فکر واورېد، نو ډېر ورته خوشاله شو.
جیم خپل رئیس ته وویل: (زه باید دغه پیسې په میاشت کې خلاصې کړم، سره د دې چې دې وخت کې باید تاسې ته د خپل معاش زیاتولو خبره و نه کړم، خو حالات داسې دي چې زه باید ډېرې پیسې پیدا کړم. دلته ځینې داسې کارونه دي چې زه یې په رخصتیو کې کولای شم. که ستاسې خوښه وي دا کارونه به زه کوم.)
د رئیس یې دا خبره او د جیم زیارکښې دواړه خوښ شول. داسې سیستم یې ورته جوړ کړ، چې جیم په رخصتۍ کې لس ساعته کار کولای شو او په دې توگه جیم او مېرمن یې د نوي کور خاوندان شول.
۱. د کور اخیستو قوي هوډ، د جیم ذهن مجبور کړ چې د دې کار کولو لپاره لارې چارې پیدا کړي.
۲. جیم پر ځان باور پیدا کړی و او دې ورته قوت ورکاوه. له دې وروسته به ورته په حساسو شرایطو کې پرېکړه اسانه وي.
۳. جیم ځان، مېرمنې او بچو ته ښه ژوند برابر کړ. که یې خنډ کولای د کور اخیستو پرېکړه یې تر مناسب وخته ځنډولای شوه، خو ښایي دا کور یې بیا هېڅکله نه وی پېرلای. **دوام لري...**

# صنوبر حسین کاکاجي

شفیق امیرزی



صنوبر حسین کاکاجي د پښتنې ټولنې یو مبارز او اتل شخصیت دی. هغه داسې مهال نړۍ ته راغلی چې پر پښتنې خاوره او شاوخوا سیمو انگریزان واکمن وو. تر څنگ یې په شاوخوا سیمو کې د دغه واکمنۍ پر وړاندې خلک او خوځښتونه را ولاړ شوي وو. دوی له یوې خوا غوښتل انگریزي ښکېلاک ختم کړي او له بلې خوا یې د ټولنې د پرمختگ لپاره کوښښونه کول. صنوبر حسین کاکاجي هم په همدغه چاپېریال کې را لویېده او د پښتنو د ازادۍ او پرمختگ فکرونه یې په ذهن کې زرغونېدل. صنوبر حسین کاکاجي په ۱۸۷۹ ز کال کې زیږېدلی دی. هغه د پښتونخوا د پېښور په کړه وله نومې سیمه کې سترگې نړۍ ته وغړولې. په خپل کلي کې یې زده کړې پیل کړې او له لسم ټولگي فارغ شو. تر فراغت وروسته یې په ښوونځي کې معلمي پیل کړه. همدلته یې د انگریزي حکومت ظلمونه او حرکتونه هم تر نظر تېرول او په ذهن کې یې انقلابي افکار روزل. وروسته وروسته یې چې د انگریزي ښکېلاک خورا له حده وتې نادودې ولیدې، نو له انگریزانو سره یې دښمني پیل کړه. د همدې دښمنۍ او خپلو انقلابي افکارو له امله یې معلمي پرېښوده او ځینې حرکتونه او فعالیتونه یې پیل کړل.
کله چې صنوبر حسین له دندې گوښه شو، نو په سیمه کې یې د کارگرو، بزگرانو او مزدورانو له یو ځای کېدو خوځښت جوړ کړ. له دوی سره یې په گډه د هېواد د ازادۍ او انگریزي ښکېلاک د ختمولو هلې ځلې پیل کړې. عملي سیاست یې له خدایي خدمتگارانو سره له کاره پیل کړ. له همدغه ځایه یې سیاسي فعالیتونه کول. هغه په لومړي سر کې له خدایي خدمتگارانو سره سیاست پیل کړ. خو دا چې هغه یو جذبه یي او تېز انقلابي افکار درلودل، نو د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره یې عدم تشدد لار گتوره ونه بلله. له همدې امله له ځینو توندروه او وسله والو خوځښتونو سره یو ځای شو. دی د نوجوان بهارت سبها په نوم له ډلې سره یو ځای شو او په خبره یې، خپل حق باید په زور او د مبارزې له لارې تر لاسه کړي. هغه په دې وخت کې د ستر دیني عالم مولانا عبدالرحیم پوپلزي ملگرتیا کوله. هغه په خپل چاپېریال کې د انگریزي ښکېلاک پر وړاندې د ستر مبارز او ازادي غوښتونکي شخصیت شهرت او نوم گټلی و. کاکاجي د انگریزانو له استعمار او راج څخه سخت نفرت درلود. هغه د انگریزي حکومت له چاپلوسانو او پلویانو هم سخت نفرت درلود. هغه جاگیرداران او خانان یې غندل چې د انگریزانو لپاره یې خدمت کاوه او یا به یې د دوی په اشاره کارونه او ژوند تنظیماوه. هغه په دې لړ کې ډېر ملگري هم پیدا کړل، له دې ډلې یو هم سبهاش چندربوس و. دواړو د تشدد لار خپله کړه او د جگړې پر مټ یې د خپلې ازادۍ پر گټلو ټینگار کاوه. کاکاجي وروسته وروسته مطالعه وکړه، مشاهده یې وکړه او په دریځ کې یې یو څه نرموالی راغی، خو انقلابي افکار یې پر خپل ځای و او لا هم د هېواد د ازادۍ او پرمختگ مدعي و.
کله چې کاکاجي د ازادۍ او مبارزې هڅې کولې، نو په ده پسې انگریزي حکومت هم خپلې هڅې روانې کړې وې، چې و یې نیسي او بندي یې کړي. همدغو مسایلو کاکاجي اړ کړ، چې ځان له انگریزي پوځیانو لرې وساتي، خو تر څنگ یې خپله مبارزه جاري وساتله. نو ځکه یې په ډېرې مواردو کې خپله تگلاره بدله کړه. هغه د جگړې او خپلو فعالیتونو بڼه هم بدله کړه. کاکاجي وروسته قبایلي سیمې باجوړ ته لاړ او هلته یې د انگریزانو له سترگو لرې خپل فعالیتونه تنظیمول. دلته په غازي اباد نومې کلي کې اوسېده. هملته د ترنگزو له حاجي صیب سره بلد شو. د ترونگزو حاجي صیب د انگریزانو د واکمنۍ پر مهال د مبارزې او پښتنو د وېښتابه ستر مشر او لاربنود تېر شوی دی. هغه د پښتنو د زده کړو، فکري ودې او پرمختگ لپاره له نورو ملگرو سره یو ځای هلې ځلې کولې. کاکاجي هم له هغه سره تر معرفت وروسته، خپل فعالیتونه نور هم ژور او اغېزناک کړل. دوی دواړو په گډه د ازادۍ مبارزې او روانې لړۍ ته نوې بڼه ورکړه.
له دې ور هاخوا، کاکاجي چې د قلم خاوند و، نه یوازې جگړه یې کوله؛ بلکې لیکوالۍ او شاعرۍ کې یې ښه مهارت درلود. هغه په حاکم وضعیت کې د لیک او لوست په اهمیت پوهېدلی و. دې ته هم متوجه و، چې د انگریزي ښکېلاک پر وړاندې مبارزه څومره تبلیغاتو ته اړتیا لري او تبلیغات څومره گټور تمامېدلی شي. هغه په همدې لړ کې د شعله په نومه مجله چاپ کړه. هغه وخت د چاپ امکانات نه وو برابر، چېرته به چې وو هم، نو خورا گران به تمامېدل او هر چا د مجلې د چاپ وس نه درلود. کاکاجي دغه مجله په لاس لیکله. وروسته به تکثیر کېده او تر خلکو به رسول کېده. په دې مجله کې د هغه وخت حالات، خبرونه او تبصیرې خپرېدې. ده غوښتل په دې توگه په خلکو کې سیاسي شعور را ژوندی کړي او ستره موخه یې دا وه چې په پښتنې او شاوخوا ټولنو کې فکري تحول رامنځ ته شي.
د کاکاجي په اړه چې کومې لیکنې شوې دي، پکې راغلي چې هغه د پښتو، فارسي او اردو لیکوال او ادیب و. په انگریزي ادبیاتو کې یې پوره مطالعه لرله. د فارسي د ځینو انقلابي شاعرانو شعرونه یې پښتو ته ژباړلي دي او همدا راز یې د مصري ادیب ډاکټر طه حسین او شاه ولي الله کتابونه هم ترجمه کړي دي. تر څنگ یې د یوه مشهور صحابي ابوذر غفاري د ژوند حالات هم لیکلي دي. د دې تر څنگ یې د خپلو دوو شهیدو ملگرو صاحبزاده اسلم او حافظ عبدالستار د ژوند جدو جهد او کړه وړه هم په یوه کتاب کې راټول کړي دي.
کله چې انگریزان یو څه ځپل کېږي او د پاکستان په نامه هېواد رامنځ ته کېږي، نو کاکاجي پېښور ته راگرځي. دلته یې د خپل ملگري اسلم په نامه یوه مجله پیل کړه. وروسته د پاکستان حکومت بنده کړه. تر دې وړاندې حکومت د کاکاجي سیلاب نومې رساله باندې هم بندیز لگولی و. سیلاب یې د انگریزانو پر ضد چلوله او انگریزانو یې سخت مخالفت کړی و.
کاکاجي په پښتونخوا کې د ترقي غوښتونکي ادبي غورځنگ له بنسټگرو او مخکښانو هم گڼل کېږي. په همدغه ادبي انجمن کې یې فعالیتونه پیل کړل او خلک یې پکې راټول کړل. په ۱۹۵۴ز کال کې د همدغه انجمن مشر و او حکومت ونیو. حکومت په دې تور ونیو چې گواکې حکومت ضد فعالیتونه ترسره کوي. له دې سره سم یې په ټولو سیمو کې د دغه انجمن پر فعالیتونو او غونډو هم بندیز ولگاوه. په دې لړ کې ډېر پښتانه لیکوالان او شاعران نور هم ونیول شول او زنداني کړل شول. په دې پسې کاکاجي د ولسي ادبي جرگې په جوړولو کې کار وکړ. په دغه کار کې امیر حمزه شینواری او دوست محمد خان کامل ورسره ملگي وو. دوی درې واړو د پښتنو لیکوالانو په فکري سمونه او لارښوونه کې د پام وړ کارونه کړي دي. دوی به منظمې غونډې کولې، لیکوالان او شاعران به پکې راټولېدل او د یو بل پر پنځونو او اثارو به یې کره کتنه کوله. درې واړو عالمانو پښتنو لیکوالانو ته د نقد هنر ورزده کاوه او دوی یې پوهول، چې څنگه له زغم او درایت کار واخلي.
کله چې کاکاجي بېرته پېښور ته راستنېږي، نو ناروغ وي. د ناروغۍ له امله ډېر وخت په عملي سیاست کې برخه نه اخلي؛ خو نظري سیاست یې تل د مجلو او نورو لیکنو له لارې روان وي. کاکاجي په هغه وخت کې پر پاکستان د حاکم نظام مخالف وو او خپل مخالفت ته یې ادامه ورکوله. له همدې امله ډېر وخت د حاکمو کسانو د سترگو اغزی و او د ده موجودیت به یې نه شوی زغملی. په ۱۹۵٦ ز کال کې سره له دې چې سخت ناروغ و، د حکومت له لوري ونیول شو او په لاهور کې بندي کړل شو. خو په زندان کې د هغه د ساه لنډۍ ناروغي نوره هم شدیده شوه. حکومت بیا هم وېره ترې لرله او د هغه فعالیتونه یې د ځان لپاره خطر بلل. کاکاجي شدیدې درملنې ته اړتیا لرله، خو حکومت هغه له زندانه نه خوشی کاوه، تر دې چې له درملنې او چارې ووت، نو له زندانه ازاد شو. له خوشې کېدو لږ موده وروسته دغه پیاوړی مبارز او قلم وال په ۱۹٦۳ ز کال کې له دې نړۍ لاړ.
کاکاجي صنوبر حسین مومند یو پېژندل شوی شخصیت و. هغه یوې خوا ته د هند او پښتونخوا د ټولو خپلواکۍ غوښتونکي مشرانو بهگت سنگه، سبهاش چندر بوس، رام تلواړ، مفتي عبدالرحیم پوپلزي، حاجي صاحب د ترنگزو او نورو خپلواکۍ غوښتونکي مشرانو سره اړیکې درلودې او بلې خواته یې د جرمني د اډولف هیټلر څخه نیولې د شوروي اتحاد تر مشر جوزیف سټالن او بیا تر کابله له استقلال گټونکي غازي امان الله خان سره اړیکې درلودې.
کاکا صنوبر ۱۳ کتابونه لیکلي، تالیف کړي او ژباړلي دي

۱: د عمرخیام د څلوریځو ژباړه
۲: مقالات صنوبر
۳: سوانح عمري حضرت ابوذر غفاري رح
۴: د حضرت عمر فاروق، سوانح او کارنامې
۵: د ابن بطوطه د سفرنامې ژباړه
٦: د گور غریبان
۷: فتنه الکبری ژباړه
۸: مضمون و انشانیه
۱۰: تاریخ اسلام
۱۱: د شاه ولي الله د عمرانیات او معاشیات ژباړه
۱۲: پښتو ادبیاتو کې تاریخ
۱۳: شعري ټولگه

د کاکاجي صنوبر حسین دغه کتابونه ډېری ناچاپه دي او یوازې یو څو کتابونه د عمرخیام د څلوریځو ژباړه، د شاه ولي الله د عمرانیات او معاشیات ژباړه، د ابن بطوطه د سفرنامې ژباړه او د طه یسین د فتنه الکبری ژباړه چاپ شوي دي.

همیانی

# ماشومانو ته د داستان ویلو نهه گټې

ژباړه: امان الله«حنیفي»

نن ورځ پلار او مور ماشومانو ته د داستان ويلو ته څومره ارزښت ورکوي؟ تاسي د يو مسوول مور او پلار په څېر په څومره وخت کې يو ځل خپلو ماشومانو ته داستان لولئ؟

نن ورځ هر پلار او مور د خپلو ماشومانو لپاره د ښې روزنې او په راتلونکي پر ځان بسياينې په موخه، ډېر زحمت باسي. هغوی نه غواړي چې په راتلونکي کې يې دې ماشومان له ستونزو سره مخ شي. د همدې لپار ه ډېر زحمت باسي او ټول په وس پوره هغه امکانات چې د دوی له ماشومانو سره مرسته کولای شي، برابروي. خو له ځينو ميندو او پلرونو څخه بيا يوه ډېره اسانه او تر ټولو ستره اغېز لرونکې لار هېره ده، هغه لار ماشومانو ته د داستان ويل دي. بايد پوه شی چې داستان د ماشومانو د شخصيت په جوړولو کې تر ټولو مهم رول لري.

ماشومانو ته د داستان ويل په ډېرو ملتونو کې يو پخوانی په ميراث پاتې دود دی. دوی ماشومانو ته داستان وايي او په دې توگه د هغوی ذهن ته پراختيا ورکوي. ماشوم ته داستان ويل د هغوی پر ژبه هم اغېز کوي. هغه ماشومان چې داستان اوري، د هغوی په پرتله چې نه يې اوري، پوره او فصيحه ژبه لري. هغوی خپلې غوښتنې په ډېر ښه انداز نورو ته رسولی شي او هم د نورو خبرې په ښه ډول اوري.

د همدغو ښو ځانگړنو په درلودو سره، اوس اوس ځينې ميندې او پلرونه هڅه کوي، چې ماشومانو ته يې داستان ووايي او يا هم هغوی ته کارتون وښيي. ماشوم د داستان له ويلو خوند اخلي او په مينې سره يې اوري. ميندې او پلرونه بايد هره ورځ ماشومانو ته د هغوی له عمر سره برابر، داستانونه ووايي.

په لوړ اواز د داستان ويل اصلاً سخت کار نه دی. که ماشوم ته د داستان ويلو وخت نه لرئ، کولای شی يوازې د هغه تعريف هم ورته وکړئ، د خپل ماشوموالي خاطرې ورته ووايی يا د موبايل د سکرين له مخې هغو ته څو جملې ووايئ. ماشومانو ته د داستان ويلو گټې ډېرې زياتې دي، موږ يې يوازې دلته د نهو هغو مهمو يادونه کوو:

**۱ـ د دروني ارزښتونو پياوړي کول**

په ټوله نړۍ کې ماشومان د داستان له ويلو سره مينه لري. هغوی دا خوښوي چې د خپلې خوښې وړ کسانو له خولې يوڅه واوري او کله کله خو د هغوی تقليد هم کوي. ماشوم ته د ښو مطالبو لرونکو داستانونو ويل، د هغوی د دروني ارزښتونو، لکه دانايی، رښتيني اوسېدو، شجاعت او ځينو نورو ښېگڼو ابړېدي.

**۲- له خپل کلتور يې خبروي**

ماشومانو ته د ښو داستانونو لوستل يا د خپل ماشوموالي خاطرې ويل، هغوی د ټولنې له بېلابېلو دودونو سره اشنا کوي. د خپلې کورنۍ د غړو په اړه هغوی ته کيسې کول، ماشوم د هغوی له عادتونو سره بلدوي.

**۳- د خبرو ويلو مهارت يې پياوړی کوي**

ماشوم په لوړ اواز د داستان ويل، هغه له نويو کلمو، عبارتونو او اصطلاحاتو سره اشنا کوي. د خپلې ژبې له کلمو، اصطلاحاتو او عبارتونو سره د اشنايی پيدا کولو په پار، دا تر ټولو ښه لار ده.

**۴- د ښو اورېدو مهارت پيدا کول**

ډېری ماشومان نه شي کولای د ډېر وخت لپار ه پر يوه موضوع تمرکز وکړي. په همدې خاطر خبرو کولو ته د اورېدو پر ځای ډېر ارزښت ورکوي. د داستان ويل نه يوازې دا چې د ماشوم د اورېدو مهارت پياوړی کوي، بلکې د هغه د خبرو کولو مهارت هم پياوړی کوي او بيا په اسانی سره له نورو سره افهام او تفهيم کولای شي.

**۵- نوښت او ابتکار ته يې هڅوي**

د داستان اورېدل د دې باعث کېږي، چې د خپلې خوښې وړ کسان، ځايونه، ځيزونه او ځينې نورې صحنې چې ماشوم يې په اړه خبرې اوري، ذهن کې ترسيم کړي. همدا چاره د هغوی د خلاقيت باعث کېږي او د خپلو غوښتنو په هکله بيا هر وخت فکر کوي. هغوی خپلو غوښتنو ته د رسېدو يا تر لاسه کولو لپاره اسانه او ساده لارې لټوي، څکه دوی مخکې له مخکې د نورو کسان د بريا او ژوند په اړه کيسې اورېدلې دي.

**٦- د ماشوم حافظه پياوړې کوي**

د ځينو پېښو په اړه له کيسو کولو، کولای شو د ماشوم د حافظې د پياوړتيا لپاره گټه واخلو. له داستان ويلو وروسته کولای شی له هغوی وپوښتی، چې اورېدلی داستان د بېرته په خپله ژبه ووايي يا يې دې د ځينو هغو مهمو صحنو يادونه وکړي.

دغه کار د ماشوم حافظه او پر يوه موضوع د هغه تمرکز پياوړی کوي.

**۷- د ماشوم ذهني ليد پراخوي**

ماشومام د نورې نړۍ د ملتونو له کلتورونو او ټولنيزو عادتونو سره اشنايي نه لري. د داستان په ويلو سره هغوی د نړۍ له مختلفو کلتورونو، ځايونو او ملتونو سره اشنا کولای شی. هڅه وکړئ چې د خپل کلتور په پام کې نيولو سره، ماشوم ته د نورو کلتورونو ځينې گټور داستانونه هم ووايی، څو د نړۍ او ژوند په اړه د هغوی ليد پراخ شي.


**۸- د يوڅه په زر زده کولو کې مرسته کوي**

د داستان ويل، د زده کړو لپاره تر ټولو ښه لاره ده. ماشوم د يو څه په وار وار او پر هغه د خاص تمرکز په پايله کې، ياده موضوع ذهن ته سپاري. په پرله پسې ډول ماشوم ته د داستان ويل، له هغه سره د هغه څه په اړه چې اوري يې او يا يې په اړه خبرې کوي، د زر مفهوم په اخيستو کې مرسته کوي. ډېری وخت د داستان په ډول د ځينو ځانگړو موضوعاتو تدريسول، نورو ته د هغه د مفهوم په رسولو کې ښه مرسته کوي.

**۹- له نورو سره د اړيکو جوړولو مهارت پياوړی کوي**

سره له دې چې ځينې ماشومان کنجکاو وي، خو دوی بيا هم له پوښتنې کولو وېرېږي. د داستان ويل له دې ډلې ماشومانو سره مرسته کوي، څو په پوره جرئت خپلې غوښتنې وغواړي او يا د يو څه په اړه پوښتنه وکړي. له دې سره سره، پر ځان د هغوی باور پياوړی کوي او دا چل ورته ښيي، چې څنگه له نورو سره خبرې وکړي. په پرله پسې ډول د داستان اورېدل، د ماشوم د خبرو کولو مهارت پياوړی کوي.

## یوناما: د روژې په میاشت کې د ملکي تلفاتو ډېرېدل د اندېښنې وړ دي



د ملگرو ملتونو مرستندويې ادارې يا يوناما په افغانستان کې د روژې په مياشت کې د شخړو پر مهال، د ملکي تلفاتو پر زياتېدو اندېښنه ښودلې ده.

په کابل کې د يوناما دفتر له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دوی د طالبانو هغه بريدونه غندي، چې په قصدي ډول ملکي وگړي په نښه کوي.

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د سرمنشي ځانگړي استازي تداميچي ياماموتو ويلي: «له توپير پرته په قصدي ډول پر ملکي کسانو بريد په هېڅ ډول د توجيه وړ نه دی».

نوموړي زياته کړې چې د کابل د تېرې اونۍ د بريد اصلي قربانيان عام افغانان وو. دغه بريد په ښکاره او قصدي ډول پر يوې داسې پرمختيايي موسسې، له تاوتريخوالي ډک ترسره شوی بريد دی، چې ملکيان پکې د خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره هڅې کوي.

په خبرپاڼه کې راغلي، تردې وړاندې د روژې د مياشتې په درشل کې، طالبانو د بغلان په امنيه قوماندانی ځانمرگی بريد وکړ، چې ډېر ملکي تلفات يې درلودل او په ټپيانو کې يې ښځې او ماشومان هم شامل وو.

سرچينې زياته کړې، دغه دوه بريدونه د ښارونو په ملکي مېشتو سيمو کې په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د هېواد په مختلفو سيمو کې د زيات شوي تاوتريخوالي پراخ رپوټونه ورکول کېږي او ادعا کېږي چې د دغو بريدونو درنه بيه ملکيان پرې کوي.

يوناما ويلي، دوی په فعالانه ډول د هغو ادعاوو پلټنه هم کوي، چې گواکې د نړيوالو ځواکونو له خوا د نشه يي توکو د توليد د مرکزونو پر وړاندې د شوو هوايي عملياتو له کبله په فراه او نيمروز ولايتونو کې ملکيانو ته تلفات اوښتي دي. د سرچينې په خبره، دغو سيمو ته لاسرسی اسانه نه دی او دلته ډېرې عملياتي ننگونې موجودې دي، چې د دغو عملياتو په لړ کې ملکيانو ته د رسېدلي زيان څرنگوالی معلوم شي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې يوناما به د امنيت شورا له خوا ورکړل شوي ماموريت ته په بې پرې ډول دوام ورکړي، چې ملکيانو ته د اوښتونکي زيان څېړنه او ثبتول دي او پر ملکيانو د جگړې د اغېزو د محدودولو او د شفافيت يا حساب ورکولو د پرمختيا لپاره د خپلو موندنو خپرول يې د کار يوه برخه ده.

يوناما يوځل بيا د جگړې پر ښکېلو اړخونو غږ کړی، چې د روژې په مياشت کې جگړه ودروي او د ملکي وگړو د خونديتوب په تړاو خپلې ژمنې عملي کړي.

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته دې سرپرست حکومت رامنځته شي



د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو شورا د يوې طرحې په وړاندې کولو سره د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته د«سرپرست حکومت» غوښتنه کړې ده.

دې شورا چې راتلونکو ټاکنو ته د ولاړو ۱۸ کانديدانو له ډلې ۱۱ تنه پکې شامل دي، په دې اړه د افغان حکومت مشرانو ته دوه وړانديزونه کړي دي.

په دغه طرحه کې راغلي: «په هغه صورت کې که اوسنی ولسمشر راتلونکو ټاکنو ته له درېدو څخه تېر شي، کولای شي بې د کوم قانوني ميکانېزم له طی کولو د ۱۳۹۸ کال د جوزا مياشتې له لومړۍ نېټې پرته له کومې وقفې، تر ټاکل شوې نېټې سرپرستۍ ته دوام ورکړي».

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه ولسمشريزې ټاکنې د ۱۳۹۸ لمريز کال د وري په ۳۱مه تر سره شوې وای، خو د پنځو مياشتو په ځنډېدو سره تمه ده چې د دغه کال د تلې په شپږمه تر سره شي.

د دې شورا په دويم وړانديز کې راغلي، چې ولسمشريزو ټاکنو ته د ولاړو کانديدانو له ډلې او د سياسي احزابو له خوا پر شرايطو برابر کسان هم کولای شي د سرپرست حکومت بست ته ځان کانديد کړي.

يادې شورا خبرداری ورکړی، که د ملي يووالي حکومت مشران وغواړي د جوزا مياشتې له لومړۍ نېټې څخه نور هم خپل کار ته دوام ورکړي، د دغه «غير قانوني» کار پايلې به د هغوی په غاړه وي.

د ولسمشريزو ټاکنو کانديدان ياده غوښتنه په داسې وخت کې کوي، چې سترې محکمې روانه مياشت د ولسمشر غني د کاري مودې دوام د ټاکنو تر ترسره کېدو تاييد کړ. د ولسمشرۍ ماڼۍ د وياند مرستيال شاه حسين مرتضوي بيا د يادې شورا له غړو غوښتي، چې اساسي قانون په دقيقه توگه مطالعه کړي.

د ملي يووالي حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله که څه هم د وزيرانو شورا د تېرې ورځې په غونډه کې په دې اړه تبصره ونه کړه، خو زياته يې کړه، چې د شفافو ټاکنو د تر سره کېدو په اړه د کانديدانو ستونزه به ژر تر ژره هواره شي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦۰ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ٥٤۳ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲۴مه | د ۲۰۱۹ د مې ۱۴مه | دریم کال | ۳۷۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

سه شنبه ۱۳۹۸/۲/۲۴
د سهار اذان ۰۳:۱۴ د ماښام اذان ۰۶:۵۱
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳۵ | ۳۵ | ۳۲ | ۳۰ |
| ۱۳ | ۱۸ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۲ | ۱۸ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۴ | لمر ختل ۰۴:۵۳ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیگر ۰۳:۳۶ | ماښام ۰۶:۵۱ | ماخوستن ۰۸:۲۵

## نړۍ



ګوتريش: له اقليمي بدلون سره د مقابلې هڅې په کمزورۍ کېدو دي ۳

## په عمان سمندرګي کې د سعودي عربستان د تېلو بېړۍ په نښه شوې دي



سعودي عربستان ویلي، د تېلو دوې بېړۍ یې چې له عمان سمندرګي څخه د تېرېدو په حال کې وې، په نښه شوې دي.

د دغه هېواد چارواکو د ګاونډي هېواد متحده عربي اماراتو ساحل ته څېرمه دا شوې پېښه «سبوتاژوونکې حمله» بللې ده.

د سعودي عربستان د انرژۍ وزیر خالد الفالح ویلي، یوه بېړۍ یې د خامو تېلو د بارېدو لپاره روانه وه چې برید پرې شوی دی.

نوموړي دغه راز ویلي چې په برید کې چاته مرګ ژوبله نه ده اوښتې او نه هم په سمندر کې تېل تویې شوي، خو د دوو بېړیو بیروني جوړښتونو ته تر ډېره زیان اوښتی دی.

د سعودي خبري اژانس د رپوټ له مخې، فالح دغه بریدونه غندلي او د نړۍ د تېلو د تولیدوونکو د امنیت او د سمندري تګ راتګ د ازادۍ لپاره یې ګواښ بللی دی.

نوموړي د تېلو وړونکو بېړیو امنیت او د سمندري تګ خوندیتوب د نړیوالې ټولنې ګډ مسوولیت بللی او په خبره یې چې دا ډول پېښې د انرژۍ بازار اغېزمنولی او د نړۍ اقتصاد ته ګواښ پېښولی شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د متحده عربي اماراتو د بهرنیو چارو وزارت ویلي وو، د قلمرو اوبو ته نږدې یې «د سبوتاژوونکو عملیاتو» په لړ کې، پر څلورو تجارتي کښتیو حمله شوې، خو چا ته پکې مرګ ژوبله نه وه اوښتې.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت الفجیره بندر ته نږدې د دغه سبوتاژوونکي برید د څرنګوالي په اړه نور جزیات نه دي ورکړي او دغه راز یې د مشکوکو برید کوونکو هویت هم نه دی افشا کړی.

## د پیسو نړیوال صندوق پاکستان ته ٦ میلیارده ډالره پور منظور کړی دی




د پاکستان د خزانې وزیر ډاکټر عبدالحفیظ شیخ ویلي، د پیسو له نړیوال وجهي صندوق سره هوکړې ته رسېدلي، چې دغه صندوق به پاکستان ته شپږ میلیارده ډالره پور ورکوي.

نوموړي د دغه هېواد له یوه دولتي ټلوېزیون سره په خبرو کې ویلي، چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق به د دریو کلونو په موده کې، پاکستان ته په یاده اندازه پیسې پور ورکوي او له دغه پور وروسته به نړیوال بانک هم دغه هېواد ته درې میلیارده ډالره پور ورکړي. حفیظ شیخ ویلي، د پیسو نړیوال وجهي صندوق یا آی ایم ایف یوه نړیواله اداره ده او له هغو هېوادونو سره مرسته کوي، چې په اقتصادي توګه له بحران سره مخ وي.

نوموړي زیاته کړې: «له دغه پور وروسته به د پاکستان اقتصادي حالت سم شي. مونږ دې ته اړ یو چې د ځینو شیانو بیې لوړې کړو».

هغه ویلي چې په هېواد کې به یې د برېښنا او ګازو بیې لوړېږي، خو په خبره یې چې د ولس ستونزې به په پام کې وساتي. هغه یو ځلې بیا د پاکستان پر پخوانیو حکومتونو تور پورې کړی، چې د دغه بحران مسوولیت د دوی پر غاړه دی.

بلخوا د پیسو نړیوال صندوق هم په یوه اعلامیه کې لیکلي، چې پاکستان له اقتصادي بحران سره مخ دی او دغه هېواد ته یې شپږ میلیارده ډالره پور منظور کړی، چې په ۳۹ میاشتو کې به ورکول کېږي.

## انسداد راه غزنی- پکتیکا مردم را با مشکلات زیاد مواجه نموده است



ساکنین غزنی می گویند که با گذشت یکسال، هنوز هم شاهراۀ غزنی- پکتیکا مسدود است و در نتیجه آن، مردم با مشکلات زیاد مواجه اند.

طالبان مسلح در ماه رمضان سال پار، بر ولسوالی اندر غزنی حمله گروهی کردند که بعد از آن، شاهراۀ غزنی – پکتیکا را به روی ترافیک مسدود کردند.

عزت الله یکتن از رانندگان موتر در مسیر متذکره، به آژانس خبری پژواک گفته است که به سبب مسدود شدن این راه، با مشکلات زیاد مواجه اند.

موصوف علاوه نموده است: «راه عمومی را طالبان مسدود نموده اند، ما از طریق راه های فرعی تردد می کنیم، مسافت یک ساعت را در سه ساعت می پیماییم که هم ما در مشکل استیم و هم مردم».

وحیدالله کلیمزی والی غزنی در مورد اظهارات متذکره، به پژواک گفته است که برای بازکردن شاهراۀ متذکره، چندبار در کابل با مقامات بحث نموده و آنها وعدۀ گشایش راه را سپرده اند. موصوف علاوه نموده است: «طالبان این شاهراه را صرف برای در مضیقه قرار دادن مردم و جمع آوری مالیات از نزد مردم مسدود نموده اند». به قول کلیمزی، تشکیل نیروهای امنیتی در غزنی تکمیل شده و عملیات زود هنگام برای بازکردن این راه آغاز خواهد شد.

اما از جانب دیگر، ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان مسلح گفته است که طالبان، این راه را صرف به روی کارمندان دولتی مسدود نموده اند.

موصوف افزوده است: «مردم عادی می‌توانند از این مسیر عبور و مرور کنند، هیچ نوع مانع در برابر آنان وجود ندارد». قابل ذکر است که چند روز پیش مسعود اندرابی سرپرست وزارت امور داخله، هنگام سفر به ولایت غزنی اذعان نموده بود که برای گشایش شاهراۀ غزنی – پکتیکا، عملیات راه اندازی می کند؛ اما تاکنون عملیات آغاز نشده است.

## ژوند

## په روژه کې څنګه د بدن اوبه پوره کړو؟



د ګرمۍ په موسم په ځانګړي ډول د روژې په میاشت کې بدن د اوبو له کمښت سره مخ کېږي. د اوبو همدا کمښت ښایي انسان په بېلابېلو ناروغیو اخته کړي.

د بدن د اړتیا وړ اوبو د پوره کولو لپاره باید د روژه ماتي او پشلمي پر مهال زیاته اندازه اوبه او اوبه لرونکي خواړه وخوړل شي. له ځینو ناروغیو د مخنیوي لپاره مېوه، سابه، اوبه، شیدې او نور هغه خواړه چې په خپل ترکیب کې زیاته اندازه اوبه لري، وکاروئ.

۱- په پشلمي کې لږ تر لږه دوه ګیلاسه اوبه باید ضرور وڅښل شي. له جوس او یخو اوبو څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې وزن زیاتولی شي.


۲- داسې خواړه وخورئ چې په ترکیب کې زیاته اندازه اوبه ولري؛ ځینې خواړه لکه هندوانه او سلاد د بدن د اړتیا وړ اوبو په پوره کولو کې ډېره مرسته کوي.

۳- د روژه ماتي پر مهال په یو ځل اووه یا اته ګیلاسه اوبه څښل هېڅ کومه ګټه نه لري؛ کوښښ وکړئ په وقفه یې ډول یا هر ساعت یو یا دوه ګیلاسه اوبه وڅښئ.

۴- روژه پر خرما او دوه ګیلاسه اوبو ماته کړئ.

۵- کله چې د تراویح لمانځه او یا نورو عبادتونو ته ځی، نو یو بوتل اوبه له ځانه سره یوسی.

## د موخې نه درلودل له جګړې هم سخت دي



هغه څه چې له جنګ څخه ډېر بد دي، هغه دا دي چې موخه نه لرې چې پر وړاندې یې وجنګېږې.

د ژوند خوند او معنا د هغې ونې په کېنولو کې ده چې سیوري ته د کېناستو په تمه یې اېږدی.

خدایه ته هغه خدای یې چې کله درته ژاړم د دې پر ځای چې په خوله سوک راکړې، پر سرمې د رحمت لاس تېروې او راته وایې: «ته له ما پرته بل څوکه نه لرې».

له دې وروسته دې له ژونده د «دریغه» کلمه لرې کړه او و وایه «توکل پر خدای!»

د ژوند په لوبه کې د هېڅ شي لپاره ناوخته نه دی. اوس هم کولای شو چې جبران یې کړی. هغه پاسونه، چې په تېروتنه مو ورکړي، ګولونه چې تر اوسه مو وهلي نه دي، تېروتنې چې مو کړې دي، که څه هم هغه ژېړ کارتونه چې راښودل شوي، بېرته نه باطلېږي، خو کولای شو چې ورته بېدار و اوسو تر څو زیات نه شي.

هغه فرصتونه چې له لاسه مو تللي باید د ژوند په اوږدو کې یې بېرته لاسته راوړو.

په ژوند کې پر هغه چا باور وکړه چې ایمان پرې لري نه احساس.

خوښي د هغه چا لپاره ده چې د خدای په نعمتونو شکر باسي، مهمه نه ده چې بډای دی که بې وسه.

سپوږمی ته ختل دې موخه وټاکه، که ور ته ونه رسېږې، د ستور پر کاروان خو به ورګډ شې.